بسم الله الرحمن الرحیم

## د مرکزي اسیا مسلمانان د بنسټیز بدلون لپاره باید څه وکړي؟

**خبر:**

د جولای پر څلورمه «فرغانه» خبري اژانس د لویې څارنوالۍ او امنیتي ادارو په نقل سره داسې خبر ورکړ: «د جولای له لومړۍ بیا تر دویمې نېټې خلکو په اساسي قانون کې د هغو اصلاحاتو پر وړاندې لاریون وکړ چې حکومت هغوی له حقوقي حالت بې برخې کوي. «د خلکو په خدمت کې» د ورځپاڼې ایډیټور « داولتمورات تاژیموراتوف» د ټیلګرام له لارې د ویډیو په خپرولو سره د پارلمان مخ ته «د کاراکالپاکستان د جمهور ازادۍ» لپاره د راټولېدو غږ کړی.

«تاژیموراتوف» په «نیکوس» سیمه کې د پولیسو له خوا څکه ونیول شو چې په ټولنیزو رسنیو کې یې پر خلکو د غیر قانوني راټولېدني غږ کړی و. د دغه کس په نیول کېدو سره د هغه یو شمېر پلویان ښار ته راووتل او له اړوندو ادارو څخه یې د خوشي کېدو غوښتنه وکړه. د پخواني مرکزي مارکېټ مخ ته یې لاریون وکړ. که څه هم «تاژیموراتوف» وروسته له بنده ازاد شو، خو لاریونونه او شخړې ونه درول شوې. دوی هم له هغه سره په دې مسله کې ځان شریک کړ.

**تبصره:**

۲۰۲۲ م کال د مرکزي اسیا د مسلمانانو لپاره له ستونزو ډک کال دی. په قزاقستان، تاجکستان او د ازبکستان په «کراکالپاکستان» کې نا ارامۍ رامنځته شوې. هر کله چې خلک له ظالمې واکمنۍ او حکومت سره مخالفت کوي او غواړي چې د دوی له غمیزو ډک شتون بدل کړي، واکمنان بیا بهرنیان د دغو لاریونونو او مخالفتونو په رامنځته کېدو تورنوي، همدارنګه بیړنی حالت اعلانوي او خپل خلک وژني.

په جنوري کې په قزاقستان کې خلکو د واکمنانو له پالیسۍ سره مخالفت وښود او د لاریون لپاره راووتل. د قزاقستان ولسمشر «قسم جمارات توکایف» پر خلکو تېټګار وکړ چې د راپورته شویو کسانو په لاره ولاړ نه شي: «موږ اړ وو چې له وسله والو، غلو او سیمه‌ییزو او بهرنیانو سره همداسې چلند وکړو، چې دا ځل هم ترهګر او غله وو.»

د ولسمشر په وينا، يوازې پر پلازمېنه «الماتي» د ۲۰زره راډيکالانو له خوا بريد وشو. ده زياته کړه چې ازادو رسنيو او بهرنيانو هم پکې خوځونده رول درلود. پوليسو بياهم دغه لاريونونه وځپل.

د مي مياشتې په نيمايي کې د تاجکستان د غرنۍ سيمې مسلمانانو د ظالمې واکمنۍ پر وړاندې د لاريون تر سره کېدو او راپورته کېدو وخت نه درلودل، ځکه چې دوی په ياده سيمه کې کلابند شول او د پوليسو له خوا وويشتل شول.

هغه وخت د تاجکستان د حکومت په بيانيه کې وويل شول: «د ګارانو ـ بدخشان په غرنۍ سيمه کې د نړيوالو او ترهګريزو ډلو تر قوماندې لاندې د جنايت کوونکو ډلو مخه ونيول شوه. هغوی هوډ درلود چې امنيتي حالت ګډوډ کړي، د قانون د پلي کېدو مخه ونيسي، خلک وګواښي او د تاجکستان د ترهګرۍ خلاف د ځانګړو ځواکونو پر کاروان يې بريد وکړ.» لاريونونه همدارنګه د پوليسو او پوځ له خوا په وحشيانه ډول وځپل شول.

د جولای په پيل کې د ازبکستان په «کراکالپاکستان» کې هم رسنيو د پيل شويو لاريونونو خبر ورکړ. د خلکو د زغم پايته رسېدو او لاريون لامل د ظالمې واکمنۍ له خوا په اساسي قانون کې د نويو اصلاحاتو په اړه و، چې په جمهوريت پورې اړه لري. پوښتنه داسې شوې وه چې د ازبکستان په اوسني قانون کې خلک د رايې په ورکول بېلېدای او واکمنېدايشي، خو په نويو اصلاحاتو کې هغوی غواړي چې دغه امکان له منځه يوسي.

هغوی سرتېرو ته امر وکړ چې د لاريون لپاره راټول شوي ناراضي خلک تيت کړي. د ازبکستان ولسمشر شوکت ميرضيايف وويل: «دا پېښې په يوه او لسو ورځې کې نه دي شوې. دا هغه اقدامات دي چې له کلونو راهيسې د بهرنيانو له خوا کېږي.» دا لاريونونه هم په وحشيانه ډول د پوځ له خوا وځپل شول.

موږ وينو چې له چارواکو او ظالمې واکمنۍ څخه د خلکو د هر ډول نارضايتۍ پړه پر بهرنيو دښمنانو اچول کېږي او داسې نه وايي چې خلک په واک کې د شته واکمنۍ له جرمونو ستړي شوي. خلک د اوسنيو واکمنانو د استعفا او د ژوند بدلېدو غوښتنه کوي. هغوی د خپل ژوند په بيه قربانۍ ورکوي، خو بيا هم هېڅ نه بدلېږي. جنايت کوونکي واکمنان بيا هم په واک کې پاتې کېږي، ناوړه واقعيت نه بدلېږي او ژوند نور هم سختېږي.

هو، خلک د ظالمې واکمنۍ له جرمونو ستړي شوي او د بدلون غوښتنه کوي. خو يوازې د بدلون غوښتنه بسنه نه کوي. لومړی، تاسو بايد داسې تصميم ونيسئ چې پر اساس يې بنسټيز بدلون رامنځته شي. که بدلون د يو کس له لوري د اساسي قانون پر اساس وي، نن قضيه څه

ډول ده او د ازبکستان جمهور رییس وایي: «یوازې خلک اساسي قانون لیکلی او جوړولی شي او هغوی یې سرچینې دي.»

دغه اصل له ژوند څخه د دین بېلېدل دي، ځکه چې اوس د ټولو مخلوقاتو خالق الله سبحانه وتعالی د ژوند له صحنې څخه لېرې شوی او هر کس ځانته قوانین جوړلی شي. دا د بشر اصلي ستونزه ده. یو کس پخواني قوانین لغوه کوي او نوي پکې ځای پر ځای کوي.

د زابکستان د اساسي قانون د اصلاحاتو د ټولپوښتنې پایلې ښیي چې د اساسي قانون په ۶۴مادو کې تر ۲۰۰ د ډېرو بدلونونو تمه کېږي او همدارنګه باید نوي موارد هم پکې رامنځته شي. انسان په خپل محدود ذهن غواړي چې د ځان لپاره سیستم جوړ کړي او هر ځل له ناوړه حالت سره مخ کېږي. دا د ظالمانو او د هغوی د ملاتړو له خوا کارول کېږي او د ځان په ګټه قوانین بدلوي.

اې د مرکزي اسیا مسلمانانو! موږ مسلمانان یو او اسلام زموږ دین دی. الله سبحانه وتعالی انسان جوړ کړی او یوازې الله سبحانه وتعالی موږ ته قانون جوړونکی دی. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**(إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ)** [یوسف: ۴۰]

**ژباړه:** *یوازې الله سبحانه وتعالی حکم کوي.*

الله سبحانه وتعالی همدارنګه فرمایي:

**(وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللّهُ إِلَيْكَ)** [المایده: ۴۹]

**ژباړه:** *د هغوی په منځ کې پر هغه څه حکم وکړه چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي او د هغوی د غوښتنو پیروي مه کوه. له دوی څخه لېرې ووسه، داسې نه شي چې تا له هغو احکامو منحرف کړي چې الله سبحانه وتعالی پر تا نازل کړي دي.*

د قران کریم ډېری نور ایاتونه پر دې دلالت کوي چې یوازې الله سبحانه وتعالی قانون جوړونکی دی او د اساسي قانون سرچینې یوازې قران او سنت دي.

مسلمانانو! الله سبحانه وتعالی تر دې وړاندې موږ ته خپل رحمت اسلام رالېږلی. اسلام په ټولنه کې د ژوند او دولت لپاره سیستم دی. موږ به هغه وخت بریالي وو چې د اسلام پر اساس بدلون وکړو.

حزب التحریر د قران او سنتو پر اساس اساسي قانون او د اسلامي خلافت دولت لپاره برنامه جوړه کړې ده. بیړه وکړئ، له حزب التحریر سره د دویم ځل اسلامي ژوند پیلېدو او د نبوت پر تګلاره د خلافت دولت د تاسیس لپاره یوځای شئ! الله سبحانه وتعالی دې له موږ سره مرسته وکړي!

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۳هـ.ق د ذولحجې ۲۹مه**

**۲۰۲۲ م کال د جولا۲۸مه**

**لیکوال: الدار «خمزین»**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**